ما وويل: اې د الله رسوله! زه له چا سره ښه چلند وکړم؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: «له خپلې مور سره، بيا له خپلې مور سره، بيا له خپلې مور سره، وروسته له خپل پلار سره، بيا له هغو سره چې نږدې وي، په ترتيب سره نږدې کسان

له بهز بن حکيم څخه روايت دي، هغه له خپل پلار او هغه له خپل نيکه څخه روايتوي وايي چې: ما وويل: اې د الله رسوله! زه له چا سره ښه چلند وکړم؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: «له خپلې مور سره، بيا له خپلې مور سره، بيا له خپلې مور سره، وروسته له خپل پلار سره، بيا له هغو سره چې نږدې وي، په ترتيب سره نږدې کسان».

[حسن] [ابو داود، الترمذي، او احمد روايت کړی دی]

نبي ﷺ څرګنده کړه چې تر ټولو زيات د نېکۍ، احسان، ښه چلند، نرمې رويې، او ښې ملګرتيا مستحقه لومړۍ مور ده، د نورو په پرتله د مور پر حق درې ځلې ټينګار وکړ، تر څو وښيي چې د مور مقام او فضيلت له استثناء پرته له ټولو خلکو لوړ دی. بيا نبي ﷺ څرګنده کړه چې د مور وروسته هغه څوک حقدار دی چې نيکي ورسره وشي، ويې فرمايل: بيا پلار، بيا نږدې خپلوان، بيا هغه څوک چې تر نورو په خپلوئ کې نږدې وي (يعنې هر څومره چې څوک د خپلولۍ له پلوه نږدې وي، هماغومره د اړيکې او نېکۍ زيات مستحق دی).

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/58188